# دولت انتقالی اسلامی افغانستان

# دارالانشاء کمیسیون قانون اساسی

**Transitional Islamic State of Afghanistan**
**Constitutional Commission**
**Secretariat**

---

## د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د مرستیال او د اساسي قانون د کمېسیون د مشر پوهاند نعمت الله شهراني پیغام

**درنو هېوادوالو!**

*السلام علیکم ورحمت الله و برکاته!*

د لوی خدای(ج) په د ربار کې شکر ادا کوم چې د افغانستان د راتلونکي اساسي قانون مسوده چمتو شوې او دا دی د ګران ملت دغه ټاکونکی برخلیك تاسو ته سپارو، چې د ځان او د اساسي قانون د کمېسیون د غړیو له خوا یې درته مبارکي وایم.

اساسي قانون زموږ د هېواد هغه ملي سند دی، چې د افغانستان سیاسي او ټولنیزه راتلونکې تضمینوي. زه د اساسي قانون د تسوید او تدقیق د کمېسیونونو په استازیتوب چې له پوهانو او مخورو څخه جوړ شوي وو شاهد یم، چې زما د دغو دوستانو د نه ستړې کېدونکي کار یوازینۍ هیله او غوښتنه د لوی خدای(ج) رضا، د ملت سوکالي او نېکمرغي د هېواد سمسورتیا او روښانه راتلونکې وه، چې د اساسي قانون مسوده یې د اسلام د سپېڅلي دین د ارزښتونو، ملي یووالی دهېواد د لوړو ګټو د ساتنې، بشري حقونو، سولې او دموکراسۍ پر بنسټ بشپړه کړه او دا دی اوس یې ملت ته وړاندې کوي.

لازمه ده چې دلته د دواړو کمېسیونونو د غړیو اوږدو هلوځلو او هڅو ستاینه او مننه وکړم، چې په صداقت، اخلاص، امانتدارۍ او وطنپالنې یې کار کړی او د افغانستان په معاصر تاریخ کې یې خپل دغه مهم ملي او تاریخي مسوولیت په ښه توګه سرته رسولی او ښکاره د ه، چې دغو پوهانو تاریخي ویاړ ګټلی دی.

د افغانستان د اساسي قانون کمېسیون دا دی د اساسي قانون مسوده د یوه ملي او هېوادني امانت په توګه د افغانستان خلکو ته سپاري، چې هغوی یې په دقت ملاحظه کړي او ویې لولي. د ټولنې پوه او لوستي وګړي باید د هغه په هکله څېړنه او دقت وکړي او خپل نظرونه، وړاندیزونه او ملاحظې په پوره زړورتیا او آزادۍ موږ او یا د خپلو استازیو په وسیله را روانې لویې جرګې ته وسپاري. څو چې د اساسي قانون د تصویب لویه جرګه دغه د ملي پرېکړو تر ټولو ستر ارګان د اساسي قانون متن په عالي ښه تصویب کړي.

زه د لوی خدای(ج) په دربار کې استدعا کوم، چې د افغانستان راتلونکی اساسي قانون زموږ خلکو ته ملي یو والی، پرمختګ خیر او نېکمرغۍ راوړي.

آمین یا رب العالمین

---

*House #.213& 188, Lane#.5 Street# 10, Opposite Pakistan, Embassy, Wazir Akbar Khan*
*Tel: (+93 20) 210 2648 Fax: (93 20) 210 2647 P.O. Box #375, Kabul, Afghanistan*
*Email: farooq.wardak@undp.org*